مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۳/۲۰

# پردیسي

زما یادیږي هغه ښکلی ګودر

هلته د ښکلو سارانیو پیغلو

د منګوټیو کتار

خو چا یې ونه لید پلو

نن یې په څیر وګوره

دومره سزا او کړیده یې څه دي

د دوی د کلی د الفت په ګودر

ولي اغزي شنه شوي؟

یا یې له کلي شړي

وایه ګناه یې څه ده؟

هغه د پت او عزت ښکلي نجوني

نن یې سر توره وینم

یا یې بی کوره وینم

اوس نه ګودر، نه منګوټی، نه پلو

په پردیسي کې خیراتونه غواړي

وری ۱۳۷۱

پیښور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ